**لیکونکی** : محمد عارف عرفان «Mohammad Aref  Erfan».
**منبع اود خپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «2026-10-12».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

---------------------------------------------------

# د امپریالیزم په لینده کې د سوسیالیزم غشی

# Socialism’s Arrow in Imperialism’s Bow

## د افغانستان په پټه جګړه کې د چین، پولند او چکوسلواکیا رول

## The Role of China, Poland and Czechoslovakia in Afghanistan’s Covert War



په ۱۹۸۰ لسیزه کې په افغانستان کې جګړه یوازې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت او شوروي اتحاد (یو لوري ته) او د مجاهد ینو د ډلو (بل لوري ته) ترمنځ یوه پوځي نښته نه وه؛ بلکې دا جګړه د استخباراتي سیالیو، د وسلو د پټو راکړو ورکړو او د نړۍ د سترو قدرتونو د جیوپولیټیکو ګټو په یوه پراخه ډګر بدله شوې وه.

په دې جګړه کې، متحده ایالات، سعودي عربستان او پاکستان په عمده توګه د مجاهدینو لپاره د ما لي او پوځي ملاتړ د یو پراخې شبکې په جوړولو کې مسؤل وو. خو یو له تاریخي تناقضاتو څخه دا و چې سوسیالیستي چین او د وارسا تړون د غړو هیوادونو د ننه ځینو شبکو هم په دې عملیاتو کې د کارول شویو وسلو په برابرولو کې رول درلود.

د امریکایي رسنیو څېړنیز راپورونه او د سعودي عربستا ن د استخبا راتو د پخواني مشر، شهزاده ترکي الفیصل څرګندونې (چې په خپل کتاب "د افغانستان دوسیه" یا The Afghanistan File کې یې راوړي)، د دغو پېټو اړیکو پر ابعادو رڼا اچوي. دا حقایق د سوسیا لیستي بلاک د رسمي سقوط څخه مخکې ، د دغه بلاک په د ننه کې د سیاسي اختلافاتو، ایډیالوژیکي پیوستون د کمزوري کیدو او د اقتصادي ګټو د غلبه موندلو په اړه جدي پوښتنې راپورته کوي.

## په افغان جهاد کې د چین رول

چین، د خپل سوسیالیستي سیاسي نظام سره سره، له شوروي اتحاد سره د خپلې سختې سیا لۍ په چوکاټ کې ، د افغان مجاهد ینو لپاره د وسلو په یوه اصلي سرچینه بدل شو. د "واشنګټن پوسټ" د یوه څېړنیز راپور له مخې، د جګړې په لومړیو کلونو کې، د امریکا مرکزي استخبا راتي ادارې (CIA) د مجاهد ینو لپاره اړینې وسلې په لویه کچه په مستقیم ډول له چینا یي حکومت څخه اخیستې.

په دغو وسلو کې اتومات ټوپکونه، راکټ لانچرونه، ماینونه او د الوتکو ضد وسلې شاملې وې، چې د کراچۍ د بندر له لارې پاکستان ته لیږدول کیدلې.

د یوه امریکا یي چاروا کي په وینا، د (۱۹۸۰) لسیزې تر نیما یي پورې ، مرکزي استخبارا تي ادارې ته د وسلو د پلور له لارې د چین عاید په کال کې نږدې ۱۰۰ ملیون ډالرو ته رسید لی و. سربیره پردې، چین شاوخوا[ ۱۰ څخه تر ۱۵ ]سلنې پورې وسلې او مهمات افغان مجاهد ینو ته په وړیا توګه ورکول. شهزاده ترکي الفیصل د «افغانستان دوسیه» (The Afghanistan File) کتا ب په ۴۲مه پاڼه کې، چین هم د مجاهدینو لپاره د وسلو د یو اغېزمن عرضه کوونکي په توګه په ګوته کوي؛ هغه د چینا یي تجهیزاتو د قناعت وړ کیفیت ، پر وخت رسولو او د وسلو د اکمالاتو له هغه شبکې سره د دوامداره همکارۍ یادونه کوي چې د پاکستان د استخباراتو لخوا اداره کېده.

## پولنډ او چکوسلواکیا: د وارسا تړون په چوکاټ کې د وسلو پټې معاملې د افغان جګړې په تړاو،

د پولنډ او چکوسلواکیا رول یو له هغو اړخونو څخه دی چې لږ پیژندل شوی دی.



## انځور: شهزاده ترکي په ۲۰۱۴ کال کې(CC BY 3.0 de)

د سعودي عربستان د استخباراتو پخوانی مشر، شهزاده ترکي الفیصل، د "افغانستان دوسیه (The Afghanistan File) "په نوم کتاب په( ۴۲ ) مخ کې لیکي چې د امریکا مرکزي استخباراتي اداری (CIA) خپل ځیني اړیني وسلې او تجهیزات په مستقیم ډول له پولنډ او چکوسلواکیا څخه پیرودل؛ او دا احتمال هم موجود و چې په یا دو هېوادونو کې ځینې چارواکي د پیسو په ورکولو (رشوت) سره راضي کړای شي .

دا راکړې ورکړې د افغان مجاهدینو لپاره د وسلو د اکمالاتي شبکې په چوکاټ کې ترسره کېدې . سربېره پر دې، د هغه په څرګندونو کې له پولنډ څخه مجاهدینو ته د مالي مرستو یا دونه هم شوې ده؛ یو داسې مورد چې باید د وسلو د سوداګرۍ له لارې له ترلاسه شویو عایداتو څخه جلا وګڼل شي .

د "واشنګټن پوسټ" ورځپاڼې یو تحقیقي راپور، چې نېټه یې د ۱۹۹۴ کال د فبروري ۱۴مه ده، ښیي چې سي آی اې (CIA) د شوروي جوړو پوځي تجهیزاتو د پېرلو په موخه، د پولنډي سرچینو په ګډون په ځینو پټو معاملو کې شاوخوا ۱۵۰ تر ۲۰۰ میلیونه ډالره تادیه کړي وو. د دې پیسو یوه لویه برخه د منځګړو له لارې پولنډ ته رسېدلې وه .

په لومړنیو معاملو کې، له پولنډي سرچینو څخه څه باندې زر داني د اوږې پر اوږه ایښودل کېدونکي د الوتکو ضد توغندي او د هغوی توغند ویي دستګاوې (لانچرونه) وپېرل شوې، چې ارزښت یې شاوخوا ۲۰ تر ۳۰ میلیونه ډالرو ته رسېده او وروسته افغان مجاهدینو ته ولېږدول شوې .

دا اړیکې ښیي چې د وارسا تړون د غړو هېوادونو د وسلو په اکمالاتي شبکو کې، مالي ګټې او پټې معاملې د هغو هېوادونو له اعلان شویو سیا سي او ایډیالوژیکو ژمنو سره په ټکر کې راغلې وې.

# متحده ایالات او سعودي عربستان: د جګړې د دوام لپاره ملیاردونه ډالر د افغان مجاهدینو د لپاره

امریکا او سعودي عربستان ملاتړ د سړې جګړې په یو تر ټولو لوی پټ عملیات بدل شو.

د متحده ایالاتو هغه اسناد چې اوس له محرمیت څخه ایستل شوي، تاییدوي چې د افغان حکومت د مخالفینو لپاره د امریکا پټ ملاتړ د ۱۹۷۹ کال په جولای میاشت کې پیل شو؛ یعنې د همدغه کال په ډسمبر کې افغا نستا ن ته د شوروي ځواکونو له ننوتلو څخه نږدې شپږ میاشتې مخکې. دا مرستې، چې په پیل کې محدودې وې، په راتلونکو کلونو کې په یوه پراخ وسلهیز پروګرام بدلې شوې، چې د امریکا د مرستو ټولیزه کچه یې ملیاردونو ډالرو ته ورسېده.

سعودي عربستان هم د متحده ایالاتو سره په همغږۍ ، د پاکستان د استخباراتي ادارې له لارې پراخې مالي مرستې برابرې کړې. د دې پروګرام په یوه لویه برخه کې، د سعودي عربستان ونډه نږدې د امریکا د مرستو له کچې سره برابره وه. لکه څنګه چې دغه عملیات پراخ شول، د امریکا کلنۍ بودیجه سلګونو ملیون ډالرو ته لوړه شوه، په داسې حال کې چې د متحده ایالاتو او سعودي عربستان ګډې مرستې ملیاردونو ډالرو ته ورسېدې. دې مرستو د افغان مجاهدینو د جګړې په تمویل او دوام کې بنسټیز رول ولوباوه. د سعودي عربستان داستخباراتوپخوانی مشرشهزاده ترکي الفیصل،په خپل کتاب"د افغانستان دوسیه" (The Afghanistan File) کې په تفصیل سره بیانوي چې دا همکاري څنګه پیل شوه.

هغه لیکي چې د پاکستان د پوځي استخباراتو مشر، جنرال اختر عبدالرحمن، ریاض ته سفر وکړ او سعودي چارواکو ته یې د جنرال ضیاء الحق پیغام ورساوه، چې پکې د مجاهدینو لپاره د مالي او پوځي ملاتړ اړتیا مطرح شوې وه.

د ترکي الفیصل په وینا، له دې ناستې څو ورځې وروسته ، د هغه یو همکار، احمد بدیب، اسلام اباد ته سفر وکړ او له ځان سره یې په بکسونو کې دوه ملیونه ډالره نغدې پیسې یوورې.

هغه همدارنګه تشریح کوي چې څنګه له پاکستا ن سره ما لي او پوځي همکاري په تدریجي ډول پراخه شوه او د مجاهد ینو د ملاتړ په یو بنسټیز رکن بدله شوه.

دا روایت د داسې یو کس له خولې دی چې پخپله د سعودي عربستا ن په استخباراتي پریکړو کې مرکزي مقام درلود او ددې عملیاتو په تنظیمولو کې یې مستقیم رول لوبولی و.

# پاکستان: دمرستو پر وېش انحصار او د وسلو په شبکه کې فساد

پاکستان د افغان مجاهدینو لپاره د پیسو، وسلو او پوځي روزنې د لېږد په اصلي مرکز بدل شو. د پاکستان پوځي استخباراتي اداري، د بهرنیو مرستو د وېش پر شبکې د خپل کنټرول له لارې، د دې مرستو د ترلاسه کوونکو په ټاکلو کې پرېکنده رول ولوباوه. د «واشنګټن پوسټ» ورځپاڼې خبرنیز راپورونه او د پاکستان په استخبا راتي اداره کې د افغانستان د چارو پخواني مسؤل، محمد یوسف څرګندونې، په دې شبکه کې د وسلو د مشکوکو معاملو، د منځګړو له خوا د نامشروع ګټو ترلاسه کولو او فساد پر شتون رڼا اچوي.

په دې توګه، د افغانستان جګړه د خپلو سیا سي او نظا مي اهدافو ترڅنګ، د اقتصادي ګټو او پټو معاملو په ډګر هم بدله شوه.

د ضیاء الحق تګلاره: یوه داسې جګړه چې باید په یوه ځانګړې تودوخه کې جوش وخوري د پاکستان د هغه وخت د ولسمشر، جنرال ضیا ء الحق د تګلارې په اړه په روایتونو کې یوه مشهوره اصطلاح کارول شوې ده: افغانستان باید د اوبو د یوه داسې لوښي په څېر وي چې په یوه ځانګړې تودوخه کې جوش ته راوړل شوی وي.

د دې تګلارې موخه دا وه چې جګړه با ید دومره زور واخلي چې شوروي او افغان ځواکونه ستړي او کمزوري کړي ، خو کچه یې باید دومره لوړه نه شي چې د شوروي اتحاد او پاکستان ترمنځ د مستقیمې نښتې لامل وګرځي . دغه تګلاره افغانستان د یوې «فرسایشي جګړې» (د اوږدمهاله ځپونکې جګړې) په ډګر بدله کړه، چې پکې د بهرنیو قدرتونو ستراتیژیکو محاسبو د افغان ولس برخلیک تر سیوري لاندې راوست.

# په افغان جهاد کې د اسراییلو ونډه

د افغان جګړې یو بل اړخ، چې لږ پېژندل شوی، مجاهدینو ته د وسلو د رسولو په شبکه کې د اسراییلو ونډه وه.

چارلي ویلسن، چې د متحده ایالاتو د کانګرس پخوانی غړی او مجاهد ینو ته د پټو مرستو د تنظیمولو یو له اصلي څېرو څخه و، په ۲۰۰۳ کال کې د "فریش ایر" ( Fresh Air) په نوم راډیویي خپرونې سره په یوه مرکه کې افغان مجاهدینو ته د وسلو په برابرولو کې د اسراییلو د ونډې په اړه معلومات ورکړل. د ویلسن په وینا، اسراییلو له فلسطینیانو او نورو مخالفینو څخه لاس ته راغلې شمېر کلاشینکوفونه او د آر پي جي (RPG) راکټ لانچرونه نیولي وو. کله چې ځینو امریکایي چارواکو شک څرګند کړ چې آیا مجاهدین به اسراییلي

وسلې ومنې که نه، نو ویلسن دا موضوع د ا فغا نستا ن د اسلامي ګوند له مشر، ګلبدین حکمتیار سره مطرح کړه.

د ویلسن د بیان له مخې، حکمتیار داسې ځواب ورکړ: "موږ هغه وسلې کاروو چې له تېرې شویو او وژل شویو شوروي سرتېرو څخه یې ترلاسه کوو؛ نو ځکه، زه نه پوهېږم چې ولې موږ هغه وسلې نشو کارولی چې خدای یې د اسراییلو له لارې موږ ته په لاس راکوي." کله چې تېرې کراس، چې مرکه یې کوله، له ویلسن څخه وپوښتل چې آیا هغه اسراییلي وسلې چې له فلسطینیانو نیول شوې وې، په رښتیا هم افغان مجاهدینو ته ورکړل شوې وې که نه، نو ویلسن په ډېر صراحت سره مثبت ځواب ورکړ.

دا مستقیم شهادت د هغو وسلو د لېږد په اړه یو مهم تاریخي سند دی چې اسراییلو نیولې وې او وروسته د امریکا ترملاتړ لاندې د وسلو د رسولو د شبکې له لارې افغان مجاهدینو ته ورسول شوې.

## ګورباچوف: دافغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت پرتابوت وروستی میخ

که څه هم بهرنیو مداخلو او اوږدې فرسا یښې (ستړې کوونکې) جګړې د کلونو په اوږدو کې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت بنسټونه کمزوري کړي وو، خو په ۱۹۹۱ کال کې د شوروي مشرتابه پرېکړې د دغه نظام د بقا پر وړتیا یو له خورا پرېکنده ګوزارونو څخه وارد کړ.

په( ۱۹۸۹ ) کال کې د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته ، د افغانستان حکومت ـ د خپلو مخالفینو د اټکلونو خلاف ـ سمدستي سقوط ونه کړ. د افغانستان وسله والو ځواکونو په خورا ټینګښت او مقاومت سره د هېواد دفاع ته دوام ورکړ، په داسې حال کې چې افغان حکومت له شوروي اتحاد څخه پوځي مرستې، تېل، خوراکي توکي او تجهیزات ترلاسه کول.



Image: Gorbachev in 1987 (CC BY-SA 3.0)

خو د ۱۹۹۱ کال د سپتمبر په ۱۳ مه، د میخایل ګورباچوف د مشرۍ پر مهال، شوروي اتحاد او متحده ایالاتو هوکړه وکړه چې د افغان جګړې ښکېلو لوریو ته خپله پوځي مرسته بنده کړي؛ دغه پرېکړه د ۱۹۹۲ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د پلي کېدو وړ وه.

دا پرېکړه د ګورباچوف د لویدیځ پلوه تګلارو او هغو پراخو بدلونونو په چوکاټ کې شوې وه چې د ختیځې اروپا د سوسیالیستي نظامونو او په پای کې خپله د شوروي اتحاد د ړنګېدو لامل شول.

دغه هوکړه په ظاهره د پوځي مرستو د متقابل بندولو پر اصل ولاړه وه. خو وروستیو راپورونو ښودله چې د اعلان شویو ژمنو سره سره، افغانستان ته د وسلو لېږل یا د وسلو اکمالاتو لپاره مالي مرستې دوام درلود.

له بلې خوا، د شوروي د مرستو بند بدل د افغان حکومت لپاره خورا سختې پایلې درلودې، ځکه دغه حکومت د پوځي تجهیزاتو، سون توکو او لوژستیکي اکمالاتو په برخه کې په بشپړ ډول پر شوروي اتحاد تکیه درلوده.

د ۱۹۹۱ کال په ډسمبر کې د شوروي اتحا د ړنګېدل او د بوریس یلتسین تر مشرۍ لاندې د روسیې د نوي حکومت تګلارو ، په افغانستان کې د سون توکو ، مهماتو او مالي سرچینو د برابرولو کړکېچ نور هم شدید کړ.

په پایله کې، هغه حکومت چې د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته یې له درېیو کلونو ډېر دوام کړی و، د(۱۹۹۲) کال په پسرلي کې د لوژستیکي بحران، سیاسي او پوځي اختلافاتو، او د کورنیو ډلو ترمنځ د اتحادونو د بدلون په ترڅ کې ړنګ شو.

له دې زاویې، د ۱۹۹۱ کال د سپتمبر میاشتې قصدي پرېکړه داسې ګڼل کېدای شي لکه ګورباچوف چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت په ځېل شوي جوړښت کې وروستی سیاسي او لوژستیکي مېخ ټکوهلی وي؛ که څه هم د دغه نظام بشپړ ړنګېدل د کورنیو او بهرنیو عواملو د یوځای کېدو پایله وه او د ګورباچوف د واکمنۍ له پای ته رسېدو وروسته رامنځته شوه.

## پایله

دوینې اواورله دغو پړاوونوڅخه دتېرېدو وروسته،د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت **په پای کې ړنګ شو.**

*لویه تراژیدي دا وه چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت پر وړاندې د جګړې ځینې وسایل له هماغه بلاک څخه برابرېدل چې ادعا یې کوله له دغه نظام سره ایډیالوژیک پیوستون لري.*

*او په وروستي پړاو کې، خپله د شوروي د مشرتابه یوې پرېکړې د دغه نظام د بقا یو له مهمو ستنو څخه را وپرځاوه.*

*دا د افغانستان په سیاسي تاریخ اود سړې جګړې په تاریخ کې یو له ترخو تناقضاتو څخه پاتې دی.*

## ***څوکربني ددی مقالي دلیکوال په اړین :***

### ***محمد عارف عرفان، له افغانستان څخه لیکوال او سیاسي شنونکی، چې په انګلستان کې میشت دی***

## **رفرنسونه**


Prince Turki Al-Faisal Al Saud, with Michael Field. The Afghanistan File. Arabian Publishing, 2021, pp. 42–43.

Benjamin Weiser. “Poland Helped U.S. Buy Soviet Weapons.” The Washington Post, February 14, 1994.

Steve Coll. “Anatomy of a Victory: CIA’s Covert Afghan War.” The Washington Post, July 19, 1992.

Steve Coll. “In CIA’s Covert Afghan War, Where to Draw the Line Was Key.” The Washington Post, July 20, 1992.

Mohammad Yousaf and Mark Adkin. The Bear Trap: Afghanistan’s Untold Story. Leo Cooper, 1992.

Don Oberdorfer. “U.S. Asks Afghans to Return Missiles.” The Washington Post, April 23, 1992.

U.S. Department of State. Foreign Relations of the United States, 1977–1980, Volume XII, Afghanistan.

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1977-80v12

National Security Archive, George Washington University. Afghanistan: Lessons from the Last War, 2001.

Charlie Wilson. Interview with Terry Gross. Fresh Air, National Public Radio (NPR), 2003.

https://freshairarchive.org/segments/charlie-wilson

Amnesty International. Afghanistan, 1995, discussion of continued arms transfers following the September 1991 agreement.

Doyle McManus. “U.S. and Soviets Will Halt Afghan Arms Aid by Jan. 1.” Los Angeles Times, September 14, 1991.

*Featured image: Muhajideen fighters in 1984. (Source: Wikimedia Common*

**«15-10-2026» په درناوي** ---------------------

........................................................................